# په مجارستان کی پناه غو ښتنه
# – لنده معلومات

تاسی په مجارستان یا هنګری هیواد کی یاست،او د دهیواړ رسمی ژبه مجاری ده.

Hungarian Helsinki Committee

مجارستان د اروپایی تولنې غړې او په مرکزېې ختیز اروپاه کی پروت هیواړ دی.د مهاجرینو په کمپ کی تاسوته ځای ورکول کیږی ، همدلته اعاشه او اباطه کیږی ، تاسو ته دبشری مرستی استوګنی کارټ درکول کیږی چه ستاسی شهرت او نوم به کی لیکل کیږی.

–که چیری تاسوته کومه ناروغی پیښه شی،په کمپ کی داکتر شتون لری مرسته کوی.

–په زندان کی هم کولای شی چه مرسته وغواړی که چیری ناروغی ولری.

که چیری وکیل ته ارتیا ولری، تاسی کولایی شی چه له هلسنګی کمیتې وکیلان نه مرسته وغواړی په وړیاتوګه تاسوته وکیل ورکول کیږی،په بیچکه کمپ کی هره چهارشنبی ورځ د هلسنګی وکیلان ورځی .همدا رنګه په نورو کمپوکی( وامش سابادی،بالاشجارمات،بیکشچابا،ناج فا،نیر باتور،کیشکونهالاش،هودمزووشرهی،جور،فووت اوروسکه) کی په اونې کی یوورځ دهلسنګی وکیلان ورځی تاسو کولای شی چه له خپل سوسیال مامورنه وپوښتی چه تاسو ته په دی هکله دقیق معلومات وړکری. که چیری تاسو دیړی اندیښنی ولری خوب ونشی کولای او روانی حالاتی ښه نه دی ، په دی هکله کولای شی چه له (کوردلیا موسسه) دروانی ناروغی، داکتران ته مراجعه وکی.

–له اګست میاشتې لمړی نیتې نه قوانین بدل شوی دی. هوس دمجارستان هیواړ صربیا هیواړ ، او دمجارستان کروشیا هیواد سرحدونه تړلی دې،به سرحدونو څلور ترانزیت ځایونه جورشوې دی (روسکه،تومپن،لتنین او بره مند ) په دغو ځایوکی کانتینرونه ښودلی شوی دی،تاسوهلته کولای شی چی د پناه غوښتنلیک ورکړی. که چیری له صربیاباکروشیا هیواړ نه له ترانزیت لاری نه بغیر تاسو مجارستان ته ورسیږی،نودنوی قانون پر بنسټ،تاسو مجرم بلل کیږی،کیدای شی چه تاسوته بیرته صربیا یا کروشیا هیواړ ته واستوی او ددیرکالو دپاره تاسوته د مجارستان هیواړ د ننوتل بندیز ولګوی،داسی هم کیدای شی چه تاسو ته په زندان کی واچوی تر هغه وقت پوری چه ستاسو بیرته استنیدو پروګرام آماده وسی، غواړی چه د پناهنده په صفت قبول شی ، کولای شی چه په محکمی کی قاضی ته ووایې،که چیری تاسی په زندان کی د بیرته استنیدلو دپاره انتظارباسی، هلته هم کیدای شی چه تاسو د پناه غوښتنه وکړی ، له بده مرغه ، داسی هم کیدای شې ، چه تر هغه موده باندې چه ستاسو کیس فیصله وشې به زندان کی پاتی وشې .

دکدوالو اداریې هوس مهال پناه غوښتنو ته څلور دوله پریکړه کویی :

١–که غوښتنلیک په ترانزیتې زونې ثبت وشی نو د کدوالو اداری تر ٨ ورځی خپل فیصلی صادروی ،

٢– د غوښتنلیک ردول:که چیری تاسو په بل هیواړ کی د کدوالوپه صفت پیژندلی شوی ، یا دا لمړی پناه غوښتنی نه وی ، دا هم کیدایي شي چه تاسو له دریم امڼ هیواړ نه مجارستان ته رسیدلی په دی حالات کی دکدوالو امورواداره په سمدستی ستاسو دپناه غوښتنلیک ردوی.مجارستان صربیا هیواړ ته امڼ هیواړ وایي ، یو داسی هیواړ چه له کډوالونه ساتنه کوی ، اوباید تاسو له صربیا هیواړ نه پناه غوښتلی ویي ، که چیری نه غواړی چه تاسوته بیرته صربیاته ولیږی ، باید توضیع وړکړی چه ولي تاسوته صربیا هیواړ امڼ نه دی ، او ولی له تاسو نه هلته ساتنه نه کیډل ، په دری ورځو باید تاسو لاسلیک ، او دکډوالوامورو اداریته راوسپاری ،دوی اته وړځی لړی چی پریکړه وکړی ، نو باید تاسي بایدخپل کوشش وکی او ووایاست چه ولی تاسوته صربیا هیواړ امڼ هیواړ نه وه.

هغوی افراد چه یواځی دی په ترانزیت ځایو کی پاتي کیږي ، هغه کورنی ، چه ماشومان لری
د مهاجرینو کمپو ته لیږدول کیږیي ، کیدایي شی چه څلور اونیو دپاره په ترانزیت ځایو کی بند پاتی
وشی ، وروسته تاسوته دهیواډ دننه اجازت ورکول کیږی ، په سرحد کی یواځی له تاسونه دا پوښتنی
کیږی چه له کوم ځای راغلي یاست ، او دا چه له صربیا یا کروشیا هیوادونو نه د پناه هنده ګی
غوښتنلیک ورکړیي.

٣ – دقضیيي عاجل کړنلاری: دکد والو امورو اداریی په مختلفو دلایلو ستاسو د پناه غوښتنلیک فیصلی کوی د مثال په توګه ، که چیری تاسو د کدوالو امورو اداریته ونه وایي چه په کوم دلیل خپل ملک پرایښنی دی یا د کډوالو اداریته پته وشی چه ستاسو هیواډ امڼ هیواد دی ، یا د بل هیواد نه ځان معرفی وکی ، یا خپل اسنادونه له مینځه یوسی چه چارواکوته پته و نشی ربښتیا له کوم هیواد یاست ، یا بغیر اسناد تاسو مجارستان هیواډ ته رسیدلی او په تعین شوی موده باندی تاسو د پناه هندګی غوښتنلیک نه وړکړی دی او دا هم کیدای شی چه د چارواکو وینا له مخی ، تاسو مجارستان ته ګواښ پیښولی شی .

۴ – دقضیيي عادی کړنلاره : د نورو تولو قضیيي نه بغیر ، دکډوالو اداري به ستاسو د دوسیيي فیصلی څو میاشتی وروسته پریکړه کوي .



که چیري یو بل اروپایی هیواډ ستاسو د ګوتو نښی ونیوله ، کیداي شی چه تاسوته بیرته همغه هیواډ ته واستوي ، دیته واي د (دوبلین کړنلاره) که چیری تاسي له مجارستان نه یو بل اروپاه غیري هیواډ ته لاړشي تاسوته بیرته مجارستان ته استوي داهم کیداي شی چه بل هیواډ ،و نه غواړی تاسوته بیرته واستوی نو تاسی پاتیکیدل شی .



که چیري تاسي له اروپایی هیوادونه دری میاشتی نه بهر لارشي ، او وکولی شی چه دا ثابت وکی له همغه هیواډ نه (د بس تکت ، پیسي ، یا نور شیي ) چه تاسو په اروپاه کی نه وی او چارواکو دا ومني. دکډوالو امورو اداری له خواه له تاسونه یو انټریو اخیستل کیږی،په دغه انټریوکې باید تاسي ووایاست چه په کوم دلیل او علت خپل هیواد پرایښني دی ، دیره مهمه ده چه باید په مفصل توګه ، توضیع ورکړی ، تاسوته ترجمان درکول کیږي که چیري دیوبل خبرو ونه پوهیږی باید سمدستي ووایي ، له انټریو نه وروسته باید ترجمان تاسوته پوره کیس ولولی ، که چیری کوم ځاي په ترجمه کی غلطی شوی وي باید تاسو خپل کیس آفیسر ته ووایی چه اصلاح وکی . له انټریو نه یو کاپی ځانته وغواړي ، دکډوالو امورو اداری ماموران او ترجمانان مسوله دی چه ستاسي رازونه مخفی او پټ وساتي ، تاسو صفا خبري کولای شي .

د قضیيي په پاي کي تاسو څلور ډوله ځواب تړلاسه کولای شي :
١ ) د مهاجرپه صفت قبولی : په دی ځواب کي تاسي ته کارت ورکول کیږی ، کار کولای شی ، دمجارستان هیواډ تر دوه کاله پوری تاسي ته د پیسي مرستهٔ کوی ، خپل کورني راغوښتلای شی او ستاسو ماشومان کولای شی ښونځی ته لارشي .
٢ ) ژغورلی بامحافظتی ځواب : په دی ځواب کي تاسي ته کارت ورکول کیږی ، کار کولای شی ، پیسي مرستی او ستاسو ماشومان کولای شی ښونځی ته لارشي .
٣ ) یو کاله ځواب : دی ځواب سره په دیره مشکل کارکولای شي او خپل د کورني غړی نه غوشتلای شی .
۴ ) که چیری ستاسي درخواست رد شی (یا منفی ځواب واخیست) نو تاسي باید بیرتهٔ خپل ملک تهٔ لارشی که دا پریکړه ونه مني ، په یوه اونی کی باید محکمیته درخواست ولیکي چه دکدوالواداری پریکړه تغیر ورکړی ، دا درخواست پخپل مورني ژبه هم لیکولای شی ، چه ولي دا پریکړی سره موافق نه یی او ولي نی غواړی چه خپل ملک ته لارشي .



توقیف : (زندان) که داسی معلومه شی ، چه تاسی د کیس په جریان کی د تبندیدلو مقصد لری ، نو کیډای شی چه تاسوته تر شپږ میاشتي بند وساتي ، یو قاضی هره دوه میاشتي کولای شی چه داپریکړه وکی چه تاسی په یو کمپ کی یا توقیف خانه کی پاتي ووسی ، تاسي قاضي ته ووایی څه مشکل لری په خپل هیواد کی ، که ناروغ یاست ، که صحي تکلیف لری ، له هلسنګی کمیتی نه مرسته غوښتلای شی .




1 Bicske Refugee Reception Centre
2 Fót Children's Home
3 Vámosszabadi Refugee Reception Centre
4 Balassagyarmat Community Shelter
5 Budapest Airport Immigration Jail
6 Győr Immigration Jail
7 Kiskunhalas Immigration Jail
8 Nyírbátor Immigration Jail
9 Békéscsaba Asylum Jail
10 Nyírbátor Asylum Jail
11 Kiskunhalas Asylum Jail
12 Szeged Border Police
13 Körmend Reception Centre
14 Röszke Transit Zone
15 Tompa Transit Zone
16 Letenye Transit Zone
17 Beremend Transit Zone